داکتر عبدالحی نیازی ۱۷فروری، ۲۰۰۸

# د ملت پالو ټکلاره

دافغانستان د سیاسی مبارزې ډګر تر اوسه پورې د ګوندي مبارزې دپاره دومره وده نه ده کړې چې ګوندونه مثبت اوټاکونکی برخه د افغانستان په سیاسی ډګر ولوبلوي نو له دې کبله ګڼ شمیر ګوندونه د سیاسی واک د ترلاسه کولو دپاره وسلې او د بهرنیو سیاسی ،مالی او پوځی مرستو ته نیازمند دي دا هغه شی چې ګوندونه دننه په افغانستان کې د ولس د ملاتړ له لارې ترلاسه کولای نشي. دا د وخت ضرورت ده چې افغانان باید له قومی سیاسی جوړښتونه ووځی او یو نوی سیاسی پړاو ته داخل شي چې په هغه کې ګوندونه رښتیني ولسی او ملی پایی ولری او دسیاست په دګر کې برخه لیک ټاکونکې وي خو شته ګوندونه قومی او سیمه ییزې پایی لری او د افغانستان د سیاسی او ټولیزې غوښتنو او اړتیاوې ځواب ویللی نه شي.
دبلې افغانی ټولنه په تیرو دریش کلونو د ولس ملی او ملت پلوه سیاسی دهنیت هم ځپل شوی ده او د ملی محور څخه د تیښتې قوه غښتلی او د ملی ګټو پرمحور سیاسی طرز د تفکر کمزورې شوې او دا ډیر وخت ته اړتیا لری چې افغانی ټولنه په سیاسی ، اقتصادی او ټولنیز چارو کې پرمختګ وکړي چې د ملی ګټو پرمحور ملت پلوې ډلې ډیرې شي او افغانستان د تل دپاره خوندي شي.
د یوې رغنده سیا سی ونده دلوبلو د پاره باید هغه ګوندونه او سیاسی ډلې چې نژدی ایدیالوژیکه اړیکې لری او د افغانستان روانې چارې د یوې ملی زاویی نه ګورې باید خپل ایدیولوژیکې کربښې ، سیاسی پلټ فورم او خپل دریځ د روانې چارو ستونزې لکه کورنۍ جګړه ، د بهرنیوځواکونو شتون ، دبشرحقوقو ناقضینو ، اداری فساد ، مخدره توکی تولید او قاچاق او راتلونکې ولس مشرې په هکله روښانه کړي ترڅو دهم غږو سیاسی ډلو تر منځ د خبرو اترو اوسیاسي ور پرانستل شي. دلته په مقدماتی توګه موږ دخپل ګوند څو ایدیالوژیکې ټکې څرګندوؤ چې ځینې یی لا د مخه په اساسی قانون کې پلې شوی دي.
د افغان ملت ګوند د ملی مبارزې په ډګر کې دیوې سیاسی ډل یی په توګه د افغانستان ځپلواکی ، د خاورې بشپړ تیا ،افغانی ملی هویت ، ملی یوالې ، ملی ګټې او د افغان ولس آزادی د هرډول استبدادي نظام ، استبدادي او استعماری فرهنګ پر ضد د مبارزې په ډګر کې د افغان ولس تر څنګ د خپلو امکاناتو په اندازه دریدلې دي. د افغان ملت ګوند د یو داسې ملی متمدنې ټولنې د جوړیدو غوښتونکې دی چې په هغه کې ټولنیز عدالت ، مذهبی آزادی ، ملی واکمنۍ ، ولسواکۍ ، بشری حقوق ، د بیان ازادی تامین او د ملت جوړونې تاریخی بهیر چټک شي ؛ خپل ملی دنده او تاریخی رسالت بولی او په افغانی ټولنه کې د اسلامیت ، افغانیت ، تقوا ، فضیلت او معنویت ته وده اوبرختیا ورکول غواړي.
موږ د داسې نظام د جوړولو دپاره مبارزه کوو ، کوم چې په هغه کې د ټولنې ټولو اتباعو عادلانه مساویانه ټولنیز حقوق خوندی شي او د استعدادونو د ودې د پاره زمینه مساعده شي او د هر ډول اقتصادی ، ټولنیز او سیاسی ودې امکانات د ملی ګټې په رڼا کې ټولو اتباعوته په عادلاه توګه برابر شي.
موږ د یوې داسې ټولنې د جوړیدو غوښتونکې یو چې د افغان ولس آزادې ارادې په ټولو ؛ ملی ، سیاسی او اقتصادی چارو کې برخه لیک ټاکونکې وي او د ولس دا ارادې یوائې د خپلواکې په رڼا کې د ولس واکې له لارې تمثیلیدی شي.
موږ په دې باور یو چې د اسلامی شریعیت په رڼا کې د نړیوال بشری حقوقو ، قوانینو او تړونونو پر بنسټ د تیرو دیرش کالونو د ملی خاینانو ، د بشری حقوقو او انسانی کرامات د ناقضینو سره په ملی محکمه کې په عادلانه توګه محاسبه وشي.
موږ په دې باور یو چې په یوه ملی متمدنه ټولنه کې آزادی د ټولنې روح ، ولسواکې د ټولنې د ازادې مظهر ، مذهبی آزادی د ټولنې د معنویت مظهر ، د بشرې حقوقو او انسانی کرامت درنښت د ټولنې د عدالت مظهر ، رفرندم او د ګوندونو ټګلاره د تولني د سیاسی دریځ څرګندوی او د سیا سی ، اقتصادی ، علمی او کلتوری جوړښتونو موجودیت د یوه ملت د ودې د څرنکوالې څرګندوی دی چې موږ په دې لاره کې هر اړخیزې ودې ته اړتیا لرو.
موږ په دې باور یو چې د افغاني ټولنې هر فرد حق لری چې په ملی ، سیا سی ، اقتصادی او ټولنیزو برخه لیک او چارو کې پرته د قومی ، سیمه ییز ، مذهبی توبیر ،تبعیض یا امتیاز په افغانستان کې د روانې جګړې په هکله او د بهرنیو قواو د شتون په هکله ځپل نظر څرګند کړي او د حل عملی لاره د ملی کټو په رڼا کې په ډاګه ولس ته وښیی.
موږ د اساسی قانون سره سم د ولس مشری نظام د ټنګیدو غوښتونکې یو او دا د ولس د آزادې ارادې او ملی ګټوسره سم بولو او د صدارتی نظام جوړیدو د ګوندونو ضعیفې ودې له امله د ملی ګټو سره سم نه بولو.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

مورږ د افغانستان په دغه حساسه شيبه کې د فغانستان د ملی ستونزو حل يو تاريخی اړتيا او ملی دنده او تاريخی رسالت ګڼو او دا ملی ستونزې يواځې هغه وخت حل کيد شي چې افغان ملت پالې ډلې خپل دريځ او لار او ليک د پوهاوې او تفاهم له لارې څرګند ګړي او هغوی ته بلنه ورکوو چې په دې لاره کې هلې ځلې پيل کړي. مورږ د ملی ، سياسی اوټولنيز ستونزي د حل دپاره دجرګو ، مرکو او تفاهم او د متقابل درناوې فرهنګ ته وده او پرختيا ورکول غواړو تر څو چې د راتلونکې ټول ټاکنې د پاره يوه متحده خپلواکه ملت پلوه ولسی تحريک رامنځ ته شي تر څو چې دا روانه سياسی تشه ډکه کړی.
د يوه خپلواک ، ولس واک نظام د ټينګښت دپاره او د ملی هيلو او آرمانونو د پلي کيدو دپاره مورږ په دې باور يو چې د ملی مبارزي به ډګر کې د سياسی زغم او د سياسی پلوراليزم د اصولو پربنسټ د ملی مبارزينو ګډون اړين(ضروری) ګڼل کيږی.
ملت پالو په دې باور دي چې يوه خپلواکه ، ولسواکه افغانستان او د يوه واحد ملت جوړيدو زمورږ ملی د نده ، تاريخی رسالت ، ستراتيژيکه موخه او ملی ارمان دي، داسې ملت چې په هغه کې ملی ګټې ، ملی يوالې ، ملې هويت ، اسلامی ارزښتونه ، بشری حقوق ، د هيواد پرمختګ او د ولس سعادت سوکالی اوبسيا ژوند تل پاتې ارمان وي.
په درنښت


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de